هاري                                                    واشنګټن ۰۴/۰۵/۲۰۰۹

# کرزی د سیاسي رقیبانو پرګوډۍ خوند اخلي

سرېزه:
د افغانستان د جمهوري ریاست د مقام لپاره دمګړی څه د پاسه شپېته کاندیدان په کابل کې حضور لري. پدې کاندیدانو کي، انواع او اقسام موجودات او خلایق راغونډ سویدي. د افغانستان د جمهوري ریاست انتخابات لکه د نوح علي السلام بېړی د هر قوم، نژاد، انس و جن، او د خلقي پرچمي څخه نیولي بیا تر غربي او ملا او طالب پوري سیاسي طیفونه او تمایلات پکي مېندل کېږي. دیموکراتیک انتخابات خو همدې ته وایي. ماشاالله کاندیدان لکه د ګور چیچیان د یو بل پر غوښو شخوند وهي. هغوی په کابل کي شپه ورځ سیاسي چنې، ناندرې، او معاملي کوي. هغوی ته پر یوې ملي اجنډا یا سیاسي مفکورو باندې را غونډېدل د پیریانو خبري ښکاري. ایګو او سپېره ځان ځاني خو همدې ته وايي. هر یو من، هر یو پهلوان، هر یو په یوازي سر هم حزب، هم کمپین، او هم لېډر دی. هر یو د کابل په محرمانه او خصوصي ناستو کي د امریکا د پوره ملاتړ او حمایت لاپې شاپې وهي.

د جهان نور ملکونه په کلونو کلونو خواری کاږي، احزاب جوړي، مبارزې کوي، خو موږ افغانان ماشاالله د برېښنا په منډه شا او مخته حرکت کوو. د چپ او راست،خلقي پرچمي، او مجاهد او طالب تر مینځ نوسان کوو. فقط په څو محدودو کلونو کي کله د ملاعمر سخت او بدوي خصلت، وخت نا وخت د هغه ناڅاپه دوري، او کله بیا د کرزي غفلت او رنګ په رنګ معاملي راباندي تحمیلېږي. پداسي یوه سیاسي فضا او محیط کې، د ازادو، منصفانه، او شفافو انتخاباتو هیله او خیال درلودل پوره ساده ګي ده. زه ګومان کوم چي د افغانستان راتکونکي انتخابات به د دولت مشروعیت غښتلی نه، بلکي لا کمزوری کړي. ځکه ګومان کوم چي د افغانانو مطلق اکثریت به په انتخاباتو کي ګډون ونه کړي، له انتخاباتو سره به شعوري او یا غیر شعوري بایکاټ وکړي، او یا به له وچ مجبوریت څخه برخه پکي وانه خلي. د انتخاباتو په نتیجه کي به یو ځل بیا همدا محدود او پېژندل سوي کسان په یو ډول یا بل ډول ټګي کامیابه سي. نو بنا، ددې خلکو بیا انتخابېدل به د افغانستان سیاسي او نظامي بحران لا پسي توپاني کړي. د حکومت مشروعیت ته به کاري صدمه ورسوي.

بلخوا، دکرزي سیاسي رقیبان او سیالان نه ګوند لري، نه سیاسي پانګه او ټیم لري، او نه هم پرته د امریکا له ملاتړ څخه یو قدم مخته تلای سي. د محدودو کاندیدانو په مینځ کې، یو هم ډاکټر اشرف غني دی. هغه تورت او پاک سړی دی. عالی تحصیلات یې کړي دي. په بین المللي ټولنه کي هم د وزن او اعتبار خاوند دی. په شخصي لحاظ هم د نظر او ارادې خاوند دی. مګر د نورو کاندیدانو په شان ټوله تکیه یې د واشنګټن پر ملاتړ باندي کړې ده. په بل عبارت، په افغانانو کي ګوند او ټیم نلري. مشر دی، خو لارویان نلري.

متن:
د واشنګټن پوست اخبار د مي پر ۲ د افغانستان په انتخاباتو کي د رواني ګډوډۍ په اړه د مېرمن پاملا کانستبل یو تحلیلي رپوټ خپور کړی دی چي دلته یې لنډیز او ازاده ژباړه لولئ.
د افغانستان د جمهوري ریاست په انتخاباتو کي د کاندیدانو تر مینځ داسي ګډوډي حاکمه ده چي د کرزي د بیا کامیابه کېدو چانس ورځ په ورځ زیاتېږي. مخالفان په انفاق او ګډوډۍ کي ډوب دي. همدا اوس، قریب شپېتو کسانو د جمهوري ریاست د مقام لپاره خپله علاقه ښودلي ده. دلته او هلته یې د خپلي کاندیدي لپاره کمپین کړی دی. خو تر اوسه پوري، یوه کاندید هم ځان ندی راجستر کړی.

په کابل کي، شپه او ورځ د جمهوري ریاست د انتخاباتو لپاره د پردو تر شا او په خصوصي ناستو کي معاملي کېږي. پخواني مات او معامله ګر کمونستان، د مجاهدینو بد نامه قومندانان، او تش لاسي او ډارن غربي ټګان ایتلاف او سازش سره کوي. د جمهوري ریاست یو احتمالي کاندید ښاغلی جلالي وایي، "موږ هڅه کړې ده چي د ملي اجنډا پر شاخوا یو ټیم راغونډ کړو، خو تر اوسه پوري ناکامه سوي یو. نو بنا، کرزی شیبه په شیبه غښتلی کېږي. مشکل ایګو ده. هر څوک فکر کوي چي د کامیابی چانس یې تر ټولو نورو ښه دی، نو بنا هیڅوک روغي جوړي او کامپرومایز ته غاړه نه ږدي."


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

که څه هم کرزي نهایت بدنامه دی، خو اوسنی ګوډي د هغه د ګټولو چانس ډېروي.  که چیري کرزی انتخابات وګټي، هغه مجبوره دی چي افغانانو ته ډاډ او  اعتماد ور کړي، خو  دا کار ناممکن برېښي.  هغه په اتو کالو کي د افغانانو اعتماد او باور تر لاسه نه کړای سو.  هغه مجبوره دی چي  د امریکا او پاکستان سره هم خپل خړپړ روابط بهتره کړي.

د کرزي د بیا انتخابېدو چانس هغه وخت لا غښتلی سو چي د انتخاباتو تر کېدو پوري پخپل مقام کي پاتي سو.   هغه لګیا دی چي پدې پاتي څو میاشتو کي د جمهوري ریاست امکانات پخپل کمپین کي وکاروي.  پدې تېرو څو ورځو کي، د کرزي مخالفي جهبې یو په بل پسي خرابېږي.

په یوه جالب او سینمایي اکټ کي، ګل اغا شیرزی د کرزي په ګټه  تېر سو ، او په بدل کي د پخوا غوندي د ننګرهار والي پاتي سو.  د ښاغلي شیرزي همدا اقدام حتی د هغه پخوانیویاند او ملګری خالد پښتون هم دېته اړ ایستی چي د خپل پخوانی مشر د اقدام په اړه غوسه او مخالفت وښیي.

بلخوا،  د زلمي خلیلزاد  د کاندیدېدو اوازې هم خورې دي.  څیني افغانان هغه ته "امریکایي کاندید" وایي.  مګر د اوباما اداره ټینګار کوي چي د افغانستان په انتخاباتو کي خاص او ټاکلی کاندید نلري.  په بل عبارت، د هیچا ملاتړ نه کوي.

دریم، کاندید د مالیي پخوانی وزیر، اشرف غنی دی.  هغه څو میاشتي کېږي چي د خپل ځان لپاره کمپین کوي.  څو ځله افغانستان ته تللی دی، په یوه کتاب کي یې د خپل هېواد د راتلونکی په باب خپل نظر هم بیان کړی دی.

کرزي پدې نژدو وختونو کي د جنرال فهیم  سره پټي معاملي کړي دي، او د مرستیال ژمنه یي ورسره کړي ده.  د کزري دې اقدام افغانان ډېر اندېښمن کړي دي.  فهیم د مجاهدینو د پېر ډاکو، قاچاقبر، او د  ملیشاوو قومندان دی.  د افغانستان د بشر د حقوقو د کمیسیون ریس، نادر نادري وایي. "د فهیم مرستیالول خلک ډارولي دي.  څکه دا ټولي سیاسي منډې او فعالیت د  سیاسي مفکورو  پر اساس ندي، بلکي ددې لپاره دی چي کرزي بیا انتخاب سي او څیني معلوم خلک بیا پر اقتدار سي."

افغانان وایي که څه هم کرزي او څو تنه سیاسي مقتدر مشران او قومندان په معاملو او سیاسي تجارت سره لګیا دي، خو ښایي د هغوی همدا سیاسي لوبي په افغانانو کي د راتلونکي انتخاباتو  مشروعیت او اعتبار له سره ختم کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de